# زه د دې لپاره رالېږل شوی یم چې غوره اخلاق د کمال تر کچې ورسوم

له ابوهريرة رضي الله عنه څخه روايت دی وايي چې: رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي: "زه د دې لپاره رالېږل شوی يم چې غوره اخلاق د کمال تر کچې ورسوم".
[حسن] [امام بخاري په الأدب المفرد کې، احمد او البيهقي روايت کړی دی]

رسول الله صلی الله عليه وسلم خبر ورکوي چې الله جل جلاله هغه د دې لپاره رالېږلی، تر څو د اخلاقو فضيلتونه او ښېګڼې بشپړې کړي؛ ځکه هغه صلی الله عليه وسلم د پخوانيو پيغمبرانو د (رسالتونو) بشپړوونکی رالېږل شوی، او د عربو د ښو اخلاقو پوره کوونکی، عربان داسې وو چې خير به يې خوښاوه او له شر څخه به يې کرکه کوله، د مروت، کرم او شهامت خاوندان وو؛ نو رسول الله صلی الله عليه وسلم د دې لپاره رالېږل شوی و، تر څو د هغوی په اخلاقو کې شته نيمګړتياوې بشپړې کړي، لکه په نسبونو افتخار کول، تکبر، فقير سپک ګڼل او داسې نور.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/66233

النجاة الخيرية
ALNAJAT CHARITY
لجنة الدعوة الإلكترونية
EDC E-Da'wah Committee